# افـغــان شهــــــــزاده

## او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امـریکايي "



شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)

## تأريخي نــاول

**ليکوال : پـوهانـد بشير احمد زکـريـا**

**د کولمبيا د پوهنتون دايمي پروفيسر**

**ژباړه : رحمت آريـا**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

# ځلورم څپرکی

د ۱۸۳۷ز کال په لومړيو کې سترواک رنجيت سينګهـ پيښور له خپلې واکمنۍ سره ونښلاوۀ او ورپسې ئې خپل ستر درستيز، جنرال هري سينګهـ نِلوه د خپل مډرن ۸۰۰۰۰ کسيز لښکر په ملتيا د افغانستان د نيولو لپاره وخوَځاوۀ. هري سينګهـ چې غوښتل پيښور په وسپنين سوک اداره کړي د افغانستان پولو ته نېږدې، د يو شمير مورچلونو د ودانولو لړۍ پيل کړه. هري سينګهـ يو بې سارى جنګيالى، اتل او غښتلى بولندوى وو چې په څو تن په تن جګړو کې ئې ځو تنه مهاراجاګان ننګولي ول، همدا شان په شمالي هندوستان کې ئې د يو شمير شهزاد - استوګنو سيمو «مسل » مشرانو ته په جګړو کې ماته ورکړې وه لکه قَصُور، سيالکوټ، ملتان، کشمير او اټک کې. کله چې هري سينګهـ پيښور ته ورسېد په لومړي سر کې ئې، د پيښور د بالاحصار بيا ودانول چې مخکې د سترواک رنجيت سينګهـ په لاس وران شوی وو، پيل کړل، همدا شان د پيښور په شمال کې په جمرود او د خيبر د تنګي په لويديزې دروازې کې د پوځي کلاکوټونو او دفاعي مورچلونود دودانولو لړۍ پيل کړه. هري سينګهـ د افغان لوړو غرنيو څوکو د هوا په تنفسولو دوني ډاډمن او غره سو چې ګڼي افغانستان به د يوې اونۍ په لړ کې په بشپړه توګه ونيسي. کله چې دا خبر امير دوست محمد خان ته ورسېد، د افغانانو او د هند د مسلمانانو د مذهبي احساساتو د پياوړتيا په موخې ئې ځان امير المؤمنين اعلان کړ. په دې لړ کې په زړۀ پورې خبره دا وه چې د امير دوست محمد خان ټولو ۲۱ تنو سيالو ورونو، اميرالمؤمنين ته خپل بيعت اعلان کړ. د ۱۸۳۷ز کال د مارچ په مياشت کې امير دوست محمد خان يو ۸۰۰۰ کسيز پياوړى لښکر او ۵۰ توپونه د خپل مشر زوى شهزاده محمد افضل خان تر بولنې لاندې، د خپل تر ټولو ځوان او زړور زوى شهزاده اکبرخان، د جنګ د وزير ميرزا سميع خان او د خپل مشر ورور نواب جبار خان په ملتيا تيار سی کړل. کله چې له امير دوست محمد خان څخه وپوښتل شول چې ولې دې دغه دواړه د نورو زامنو په منځ کې غوره کړل، امير په ځواب کې وويل چې لومړنى زوى مې د هغه د تجربې او پوهې او دويم زوى مې د هغه د تيز هوښۍ، د تعقل د قوې، زړورتيا، ننګ او د هغه د نـۀ ماتېدونکې او غيرتي" بريـالۍ توري" له اسيته غوره کړل. د شهزاده اکبر خان مشر اکا سردار سلطان محمد طلائـي دغه " بريـالۍ توره" په کندهار کې د شاه شجاع له ماتولو وروسته خپل ورارۀ ته سپارلې وه .

د پوځي ځواک تيارسی چې د ۸۰۰۰ جنګياليو په وړوکي لښکر پيل شوی وو، په ډېر لږ وخت کې د صافي، ځاځيو، منګلو، افريديو، وزيرو، کوهستاني، پنجشيري، قزلباش او د يو شمير نورو وړوکو قومي ډلو د جنګياليو په پيوستون ۲۰۰۰۰ جنګياليو ته لوړ شو. د شهزاده اکبر خان ځواکونه هم چې له شپږو زرو هزاره، ازبِک او تورکمن جنګياليو څخه جوړ وو او تر څنګ ئې د افغانستان د شمال د نورو قومونو جنګياليو ګډون درلود له نوموړي لښکر سره يو ځاى شول. دا ځواکونه د تالندې او سيل په شان د خيبر پر تنګي ور واوښتل. اټکلي شميرې وايي چې ددغـۀ ۲۰۰۰۰ کسيز لښکر له منځه ۱۳۰۰۰ هغه ئې قومي مليشيايي ځواک وو. جنګيالي د بريښنا په شان د دَرو پر لوړو څوکو راڅرګند سول او د جمرود د دښتې په لوړو او د خيبر د غاښې په ختيځې ترانګې کې مورچلونه ونيول. د ۱۸۳۷ز کال د مارچ د مياشتې په يوې سرې او تيارې ژمنۍ شپې کې افغانان په ډېرې چټکۍ پر مخ لاړل او د جمرود د دښتې په لوړو غاړو کې ئې د خپل ليندۍ وزمه « مُـقَـوَس» پرمختګ لمنه نوره هم پراخه کړله. افغان ځواک دواړه د جمرود نوی خو نيمکاره حصار او زوړ حصار، چې په منځ کې ئـې ۹۰۰ سيکهـ سرتـېرو او افسرانو مورچلونه نيولي ول، کلابند کړل. په راتلونکې شپې ئـې د جمرود د محاذ سيکهـ بولندوى يوه ډنګره او زړوره سيکهـ ښځه د نورو ځواکونو د راوستلو د خبر رَسَوَنګ په موخې له حصاره دباندې ولـېږله. په زړۀ پورې دا ده چې دغه زړوره مـېرمن د تيارې شپې په لړ کې په دې بريـالۍ شوې وه چې د افغانانو د کلابندۍ له ټولو کرښو څخه په خاپوړو تـېره سي. د خړ سهار څرک لا نه و لګېدلى چې جنرال هري سينګهـ د خپلو ځواکونو له کلابندۍ څخه خبر سو، له دې کبله ئـې د سيکهـ د لښکر ځانګړى ځواک چې «الکاليان » بلل کـېدل غوره کړ، الکاليان د پيښور لوړو ډډو ته وختل او د جمرود د حصار مخامخ ئې درې يا څلور مايله کښته مورچل ونيو. هري سينګهـ د خپلو سپرو يو غښتلى کشفي کندک چې د «خاصو الکاليانو » په نامه يادېدۀ د افغان ځواک د کلابندۍ د کرښو د ماتولو او د هغوى د ضعف د ټکيو د موندلو لپاره ولـېږۀ. په همدې لړ کې هري سينګهـ خپل لښکر ته د پرمختګ لارښوونه ورکړه خو د افغان لښکر له ليکو ئـې دوني لـېرې ځاى پر ځاى دمه وکړه چې د افغان لښکر د توپخانې اور ورته ونـۀ رسېږي. ورپسې جګړې او د پوپخانـې د اورونو تبادله د څو پرله پسې ورځو لپاره پـېل سوه. د الکاليانو د ځانګړو ځواکونو سپرو او د سيکهـ پلـيو سرتـېرو د افغانانو پر مورچلونو باندې د تـېري او نفوذ د پوځي تکتيک له لارې په ډېر زور هڅه کولـه چې د افغانانو د کلابندۍ کرښه ماته کړي. دا د سيکهـ د ستروکاکۍ هماغه پياوړى لښکر وو چې د څـۀ دباندې سل تنو اروپايي جنرالانو او اروپايي افسرانو په لاس ځانګړې پوځي روزنه ليدلې وه!!. د جګړې يولسمه ورځ وه چې دوه افغان شهزادګان افضل خان او اکبر خان،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونـه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

جبار خان او زه او یو شمیر نور افغان جنرالان د مرکزي بولنې په کېږدۍ کې سره راټول شولو چې د جګړې د ډګر د راتلونکي ستراتیژۍ په اړوند خبرې اترې وکړو. موږ د جګړې د ډګر د غښتلي اتل، جنرال هري سینګهـ په تړاو خبرې وکړې او پرېکړه مو وکړه چې د افغانانو د لښکر ازبک - تورکمن تونډ- ځغلند سپارۀ جنګیالي دې په خپل یوۀ ناڅاپي چټک خوځښت، جنرال سینګهـ له خپل مل لښکر سره یوۀ ګوټ ته کړي او د افغان لښکر د سپرو پاتې برخه دې د سیمې له لوړو ډډو څخه په ګټه اخیستنې د سیکهـ د لښکر پر کیڼ اړخ یرغل وروړي او د میرځمن لښکر دې د پیښور له ورخېرمو سیمو څخه په شا وتمبوي. ځوان شهزاده، اکبر خان چې نوی یوویشت کلن شوی وو د جګړې د ستراتیژۍ په اړوند د خپل مشر ورور، خپل اکا جبار خان، زما او د نورو جنرالانو د خبرو اترو له کړۍ څخه تر یوې کچې لېرې پاتې شوی وو. شهزاده اکبر خان چې له یوۀ لنډ خوبه نوی راپاڅېدلی وو له کیږدۍ دباندې ووت، ناڅاپه ئې پورته وکتل چې د آسمان د تورې مخملینې لمن په هر ګوټ کې په زرهاوو ستورو ورته سترګکونه وهي. ما هم چې نه سول کولی خوب وکړم، له کېږدۍ دباندې ووتم او په ترهورو سترګو مې د آسمان ستوریزې ډکې لمن ته وکتل، هېڅکله مې آسمان دوني له نېږدې نه وو لیدلی چې په ځلاندو ستورو لمن کې دې د ابدیت لایتناهي مفاهیم تر دې کچې محسوس او څرګند وي! یو ګام وړاندې لاړم، د شهزاده تر څنګ ودرېدم او ومې پوښتل چې خیریت دې وي. اکبرخان هماغسې چې د سلطنتي کورنۍ نورو غړو خطاب راته کاوۀ وویل : " «سردار فیتځ» یو ترهجن خوب مې ولید؛ همدغـۀ خوب راویښ کړم".

ومې پوښتل چې ښـۀ خوب وو؟ د خوب ښـۀ والی او بد والی د خوب په تعبیر پورې اړه لري. بیا مې ورته وویل چې د خوب په تعبیر کې څـۀ ناڅـۀ ښـۀ یم؛ د خوب تعبیر مې په کلکتې کې له یوۀ نامتو ګورو څخه زده کړی دی. شهزاده راځواب کړل :" خیر! خوب وینم چې پر خپل آس شمال سپور یم «د اکبر خان یو تور آس وو چې نوم ئـې شمال وو»، او د یوۀ ډېر لوړ غرۀ څوکې ته خېږم، په پای کې د یوې پیاوړې دفاعي کلا ذروې ته په رسېدلو یو ناڅاپه د یوۀ توند باد سیلۍ مې د آس له پاسه لاندې غورځوي. په دې ترڅ کې اورم چې د یاغي سیلۍ انګولاوې د ګوربتانو له ترهجن شخول او کوکارو سره بدرګه دي، او باد په دوني توندۍ چلېږي چې نېږدې ده ما د کلا له پاسه لاندې راوغورځوي. زه چې بېسدۍ ته نېږدې سوی وم په لوړ غږ مې وویل :" اې لویه څښتنـه! مرسته مې وکړه!" که ګورم چې ناڅاپه د وریځو له منځه یوه رَسۍ را کښته سي. له اصرارو ډک یو غږ راته امر کوي چې رَسۍ ټینګه ونیسه!. رَسۍ ټینګه نیسم او د غرۀ له دنګو څوکو څخه الوزم، ګورم چې سپینه ورځ سي او د هري سینګهـ د لښکر کوټ، زرهاوو سرتېرو، کیږدیو او غړغړاندو توپونو له پاسه تېرېږم. بیا ګورم چې په کابل کې یم، او وینم چې خلک د شپې د تورې تړږمۍ په تورتم کې په ژور خوب بیدۀ دي. بیا ګورم چې الوزم او د یوۀ لوی پسوَرَوُر شنـۀ پټي په خوا کې چې کښت یې نوې غوټۍ کړې دي راکوزېږم او له خوبه راویښېږم ".

له څو دقیقو فکره وروسته مې وویل :" ګومان کوم په دې جګړې به بریا ستاسو په برخې شي او وړپسې به نورې بریاوې له ځان سره بدرګه ولرئ. د وریځو له منځه د رَسۍ اچول ظاهراً په دې دلالت کوي چې تاسو پر خدایتعالی باندې ګران یاست او ستاسو ژوند در ژغوري. یوه ورځ به کابل تاسو ته د یوۀ اتل په شان ښـۀ راغلاست ووایي".

شهزاده په خپلې ځانګړې موسکا کې وویل :" فیتځ صاحب! هیله من یم ستاسو تعبیر سم وخېږي." بیا ئـې خپل پټو تر ځان تاو کړ، په داسې حال کې چې سترګو مو د لمر خاتـۀ د څرک لارې څارلې، هاغه بل لور ته د سندهـ له دښتو ګڼ پورته کېدونکي خوپ «غبار» کرار کرار د سباوون د آسمان څنډو ته پیکه ګلابي رنګ ورکړ. شهزاده اکبر وویل چې ددۀ اندیښنه دا ده چې د لمر وړانګې نېغ په نېغه د افغان لښکر پر مخ ځلېږي او دا د بد شګونۍ نښه ده! وروسته ئـې خپل مخ سویل لویدیز لور ته وګرځاوۀ او مخامخ قبلې ته ودرید او د خپل پټو پرمخ ئـې د سهار لمونځ اداء کړ. بیا ئـې دواړه لاسونه پورته کړل، د لاس ورغوي ئـې مخ په آسمان ول او د کائیناتو له ستر پنځونکي څخه ئـې غوښتنه وکړه چې افغان ملت ته بریا ور ډالۍ کړي .

د سیکهانو لښکري ځواک له دولس پرله پسې هڅو بیا هم په دې ونه توانید چې د کلابندۍ لیکه ماته کړي؛ په پای کې جنرال هري سینګهـ د ۱۸۳۷ز کال د اپریل د میاشتې په دیرشمې نېټې چې پر خپل مغرور عربي سان «نریان آس» ناست وو په داسې حال کې د افغان ځواک د لومړۍ کرښې پر لور راووت چې د لمر زرینو وړانګو د هغه په زغرو پوښل شوي بدن باندې ځلا اچوله. د سیکهـ د جنرال دا خوځښت افغان ځواک ته د تن په تن جګړې معنی ښندله. هري سینګهـ چې د هند په شمال کې ځان د تن په تن جګړو اتل بالـۀ، ګومان کاوۀ چې پر افغان ځواکونو به هم بریـالی شي؛ سیکهـ جنرال چې په تن په تن جګړو کې په خپلې برلاسۍ غره او ډاډه وو ګومان کاوۀ چې د افغان ځواکونو د کلابندۍ د کرښې د ماتولو لپاره همدا یوازینۍ لاره ده. په آس سپور هري سینګهـ د جګړې د ډګر منځټکي ته راغی، سینګهـ چې په څو ژبو خبرې کولې په ډېر ډاډه او ډډ غږ په فارسي ژبې وویل :" ستاسو په منځ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کي کوم اتل جنګیالی شته چي له ما سره په تن په تن جګړې ډغرې ووهي؟" د ټولو د تعجب او خبرتیا لپاره شهزاده اکبر خان چي پر خپل تور اوزبیکي آس سپور وو د افغان لښکر لومړی کرښي ته راووت. له تګ مخکي ما او د شهزاده اکبر خان مشر ورور زښت ټینګار وکړ او ان دا چي اکا ئـي ورباندي وخښمېـد خو له دغو خبرو سره سره بیا هم اکبر خان ووت او د لومړی کرښي له برید لړ وړاندي ودرید. بولندوی سمیع خان پر اکبر خان لوړه چیغه وکړه چي ددۀ، د خپل پلار او د خپلي کورنۍ په پار دي دغه کار ته لاس نـهٔ اچوي. په پای کي بولندوی سمیع خان بیا وویل " وه اکبر خانه! د خدای پار مي دروړی، مه کوه"!

له دي وروسته بولندوی سمیع خان په چټکی ورک سو او یوې خوا ته لاړ. د هري سینګهـ نلوه نوم د هغهٔ د بیرحمی او وحشت له کبله په پنجاب، کشمیر او سندهـ کي په هر کور کي خپور وو. ډېریو میندو او پلرونو خپل بچیان یوازې د هري سینګه په نامهٔ ډارول چي که بد کار وکړئ هري به راسي او وبه مو وهي.

اکبر خان چي پر خپل مغرور تور، سان ناست وو؛ د آس واګه ئـي ورو ورو ځان پلو ته کشوله، کرار کرار او په شمیرلو ډاډمنو ګامونو د جګړې د ډګر منځټکي ته ورسېد؛ هري سینګهـ په خپل ځانګړي لوړ او مغرور غږ وویل :" هي ښایستوکیه هلکه! لا تر اوسه دي له سوړمو ښځه د مور د شیدو بوی راځي، ځه ورځه خپل ژوند دي وژغوره، ورځه مشر ورور دي راوله او یا دي کوم اتل راوله چي را سره مړوند په مړوند ونښلي! اخطار درکوم، بېرته لاړ سه او په خپلي زانګو کي دي ځمله "!

شهزاده اکبر خان په ځواب کي په لوړ غږ وویل :" هي هي جنراله!، جنرال هري سینګه زما سوړمو ته د داسي بوډا اتل د نعش خوسا او ګنده بوی راځي چي بویه مخکي له مخکي وژل سوی دی ".!

د دواړو جنګیالیو د غړونو ازانګو د غبرګ ښښمیدلي تندر په شان د هندوکش په دنګو لمنو کي چي د هیبتناکو ځارونکو په شان په لوړې غاړې مغرور ولاړ ول کړس پورته کړ. هري سینګهـ یو ناځاپه د جنګ ولوله له ستوني وایستله او د " ظفر کرو" په ویلو ئـي د خپل دنګ عربي آس واګه کش او په تراټ سو؛ هري سینګهـ ته دا آس د ستروا‌ک رنجیت سینګهـ د ولینعمت او د اندس د برتانوي لښکر د جنرال، " جنرال کین " له لاري ورسېدلی وو. شهزاده اکبر خان له ځنډ پرته په خپل زښت ډېر لوړ غږ " اللهُ اکبر" وویل، دا غږ دوني پیاوړی او ښنتلی وو چي ته وایي له هندوکشه ئـي غوښتل له دۀ سره یو ځای سي. سردار اکبرخان هم په هماغه آشنا ډول خپل ګران تور آس شمال ته په پښو ټکان ورکړ او واګه ئـي یو ناځاپه کش کړه؛ شمال له خپله ځایـه په غرور ټوپ وواهه او په تراټ په منډو سو. د دواړو جنګیالیو آسونو داسي د یو پل پر وړاندي په تراټ وځغستل چي د ژمني سباون په سړې هوا کي ئـي د ښښمېدلو ساه ګانو توښ د لوګي په شان پورته سو. د آسونو له کوړمونو« سُمونو» ښځه چي نـېږدي ول پر یو باندې ومښلي د خاورو او دوړو دوې کرښي پورته شوې چي د سترګو په رپ کي ورکي شوې .

هري سینګهـ چي په ډېریو تن په تن جګړو کي په خپلي ځانګړي ورهښي ځو ځله په دې بریـالی شوی وو چي خپل سیال په ښښه کړي او له پښو ئـي وغورځوي، دا ځل هم اکبر خان سره له مخامخ کېدو مخکي د خپل برید د کرښي له ټلث ښځه هڅه وکړه چي د خپل سیال پر لوري د یوۀ غیشي د وارَولو تکل وکړي، خو وئـي نه شو کولی خپل غیشي د غیشو له کڅوړې راوباسي. له څو ځلو ناکامو هلوځلو وروسته هري سینګهـ خپله لویه هلالي توره راپورته کړه او په داسي حال کي چي د دواړو اسونه د یو بل له ځنګه په تراټ تېـرېدل هڅه وکړه د خپلي تورې ګوزار د اکبرخان ځان ته ورسوي. شهزاده اکبر خان هم خپله اوږده افغاني شلګره «نیزه» تر کیڼ تخرګ لاندي ونیوله او په داسي حال ئـي برید ته ځان چمتو کړ چي خپله نومیالی «بریـالی توره» ئـي په خپل ښي لاس پورته کړه. له دوه ځله بریدونو وروسته آسونه یو بل ته مخامخ ودرېدل، خپل کوړمونه ئـي په ښښم پر ځمکه ووهل، د دواړو وسپنیني خولی ګاني او زغرې د سباوون د لمر د لومړیو څړیکو تر پلوشو لاندي په ځانګړې ځلا ځلېدلې؛ اسونو په چابکی له خپلو ځایونو ټوپ وواههٔ او په داسي حال کي چي دواړه سپارۀ د یو بل له ځنګه تېـرېـدل دواړو سیالانو هڅه وکړه چي په خپل ټول ښنتلي ځواک او لوړ ښښمېدلي غړېـو خپل سیال ته ګوزار ورکړي. په دریم ځل دواړه د خپلو آسونو پر زینونو باندي نور هم ټینګ کښېـنـستل؛ او د چټک تراټ په لړ کي آسونه له یو بل سره په مرګوني ډول ومښتل، او بیا په خپلو شاتینیو پښو د شیشني په وهلو ودرېدل. لومړی د هري سینګهـ آس پر ځمکه ومښت؛ هري سینګهـ ونه شو کولی په خپلي تورې پر اکبر خان ګوزار وکړي. له څو اوږدو ثانیو وروسته د اکبرخان آس شمال بیا یو هیبتناکه شیشنهار وکړ، لومړی په خپلو شاتینیو پښو ودرید او د هري سینګه له آس وروسته شمال هم پر ځمکه ولګېد. شهزاده اکبر خان خپله اوږده او درنده توره پورته کړه او د سترګو په رپ کي ئـي اتل هري سینګهـ پر ښی اوږې باندي ټینګ او کاري ګوزار وکړ. متجرب جنګیالی هري سینګهـ په کړوپه ملا وخوځېد او په



افغان جرمن آنلاین په درښښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښي پاږوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ډېرې سختۍ وتوانید چې ځان د خپل آس په زین باندې ټینګ او په چټکۍ د جګړې له ډګره وتښتي او د خپل کمپ پر لور وځغلي، ساتندیو سیکهـ افسرانو هري سینګهـ خپلې کیږدۍ ته ورساوهٔ. وروسته وویل شول چې هري سینګهـ پر خپلو جنرالانو ټینګار وکړ چې ددهٔ د مرګ خبر دې د نورو مرستندیو ځواکونو تر رسېدا پورې نـهٔ خپروي، حال دا چې دا خبر لا وړاندې لاهور ته لېږل شوی وو. څو ساعته وروسته خبر ورسېد چې د سیکهانو د ستړواکۍ د ځواکونو ستر درستیز هري سینګهـ پر خپلې اوږې او ټټر باندې د دوو د پوښتني وړ " ګولیو" په ټپونو مړ شوی دی چې د شا له لوري وربانديې ډزې شوې وې، خو عمومي باور دا دی چې د شا له خوا دوه لګېدلي ټپونه چې دوی وربانديې د ګولیو د ټپونو نوم ایښی دی، دواړه ئـې د اکبر خان د اوږدې افغاني شلګرې له څوکې جوړ شوي ول چې اکبر خان د خپلو بریدونو په لړ کې د هري سینګهـ پر ځان ننویستلي ول. شهزاده اکبر خان په افغاني سپورتي لوبې " اشپالک " کې یو بې ساری نیزه باز وو؛ په دې لوبې کې یو سپور په داسې حال کې چې خپل آس په تراټ ځغلوي باید په خپلې شلګرې د ځمکې پر مخ پرته منه راپورته کړي. له دې تن په تن جګړې وروسته دواړو لښکرو پر یو بل ودانګل او د شا په تګ حال کې سیکهـ لښکر د پېښور دَرې له منځه په شا وتمبول شو. په هماغه شپه د هغو لرګیو او خځلو د اور لمبو چې د هري سینګهـ جسد ئـې سوځاوهٔ د سیکهانو د لښکر پر سر آسمان ئـې روڼا کړی وو. له بلې خوا افغان لښکر خپل بیرغونه اوچت کړي ول او دا نعرې ئـې پورته کېدلې :" اللهُ اکبر، اللهُ اکبر، اللهُ اکبر، ژوندی دې وي اکبر خان، ژوندی دې وي ستر امیر «امیر کبیر»". شهزاده اکبر خان چې له دې جګړې وروسته په خپلې بریا ډاډه وو، ټینګار وکړ چې د پېښور له ژور زړهٔ څخه دې نور هم پرمختګ وکړي. خو د جنګ امیر، میر سمیع خان چې تر څو ساعتو مخکې د تاودهٔ جنګ په شـېـبـو کې یو چیرې په ګوښې ګوټ کې پټ شوی وو، له خپل پټنځي دباندې راووت او ځان ئـې د بولندویانو تر کیږدۍ ورساوهٔ، وروسته ئـې ټولو ته مخ واړاوهٔ او وئـې ویل چې دا زما ددعاګانو له برکته ول چې داسې یوه سوبه تاسو ته در په برخې شوه. نوموړي ټینګار وکړ چې شهزاده اکبر خان دې اوس له خپلې سوبې او بریـا ډاډه او خوښ اوسي او نور دې دا لښکر له ګواښ سره نه مخامخوي ځکه چې لښکر له زښت ډېر لوژیستیکي کمښت سره مخامخ دی. د جمرود جګړه له هره اړخه د افغانانو یوه بریا اعلان شوه؛ خو د مأموریت ټاکلې موخه ترلاسه نه شوه چې سیکهان دې د افغان سلاطینو له نامتو ژمنی پلازمـېـنـې پېښور څخه دباندې وشړي .



د جمرود معرکه
انځورګر حمید نوید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ